# د کورونا واکسین په ۱-۲-۳

هرڅومره چې ډیرخلک ځانونه واکسین کړی ، په هماغه اندازه موږ ژر کولی شو ټولنه بیا پرانیزو



په فریدریکستاد کې تاسو کولی شئ په  **www.fredrikstad.kommune.no/vaksine**  کی د واکسین قطار په کې ځای ونیسئ.

تاسو د خپل ځان د ورپیژندلو لپاره  BankID ته اړتیا لرئ.

کله چې ستاسو وار راشی تاسو به را وبلل شئ.

که تاسو پوښتنې لرئ یا مرستې ته اړتیا لرئ زموږ د واکسین تلیفون سره په ۶۹۳۸۱۱۰۸ شمیری کی اړیکه ونیسی (د ۳ شمیره کیکاګی).

په فریدریکستاد کې د واکسین په اړه نور معلومات دلته موندلی شئ:

**www.fredrikstad.kommune.no/vaksine**

FREDRIKSTAD KOMMUNE

### د واکسین جانبی اغیزې

ټول واکسینونه کولی شي جانبی اغیزی ولرئ. نو کورونا واکسین هم په همدی ډول ده. کله چی واکسین ترلاسه شی ، بدن د ویروس پروړاندې دفاع جوړی ، کله چی بدن دغه دفاع جوړوی کیدی شي بدن کی داسی نښې نښانی ترلاسه شی  چې د کورونا ناروغی باندی اخته کیدلو ته ورته وي. دې ته جانبی اغیزې ویل کیږي.

### جانبی اغیزې کومی دي؟

جانبی اغیزی کیدی شي د سر درد ، ستړیا ، تبه ، د عضلاتو  او بندونو درد ، په ځینو کسانو کی ممکن د ستنی  په  ځای کې هم درد وي. جانبی اغیزې به اکثرا له ۱ – ۲  ورځو پوری دوام وکړي.

### څوک جانبی اغیزې ترلاسه کوي؟

هغه کسان چې واکسین ترلاسه کوي کیدی شي شاوخوا نیمایي یی دا ډول جانبی اغیزې په مختلفو درجې سره ترلاسه کړي

، ډیری خلک خورا ډیرې خفیفی نښې نښانې ترلاسه کوي. که تاسو شدیدی نښې نښانی ترلاسه کړی ، نو خپل معالج ډاکتر سره او یا د روغتون عاجلی څانګی سره اړیکه ونیسی .



په فریدریکستاد کې د واکسین په اړه نور معلومات دلته موندلی شئ:

**www.fredrikstad.kommune.no/vaksine**

FREDRIKSTAD KOMMUNE

MARS 2021, PASHTO

# د کرونا ویروس واکسین ګړندي لارښود

د COVID-19 (کورونویرس) پروړاندې د واکسین په اړه د ناروې د عامې روغتیا انسټیټیوټ څخه لنډ معلومات.

## د کرونا ویروس واکسین په اړه *



واکسین هر هغه خلکو ته ورکول کیږي چاته چې سپارښتنه شوی

دا وړیا دي.

دا واکسین د کرونا ویروس (COVID-19) څخه ژغورنه کوي

## تاسو ته څنګه واکسین کیږي؟



واکسین په مټ کې وهل کیږي.

بعضې واکسین د دوه دوزه د څو اونیو په جریان کې ورکول کیږي.

خبر ورکړئ که تاسو حساسیت لرئ، درمل کاروئ ، یا ناروغ یاست او یا کرونا پاست.

## واکسین څومره ښه کار کوي؟




ډیری خلک د دوهم دوز وروسته ۱ څخه ۲ اونی وروسته ژغورل کیږي.

د آنتان یا انفیکشن کنترول مشورې باندې عمل وکړئ که څه هم تاسو ته واکسین وهل شوی وي.

* واکسین د خنزیر اجزاوی او یا د تغذیې نورې برخې نلري.

## واکسین څنګه کار کوي؟



واکسین بدن ته لارښوونه کوي ترڅو د کورونویرس پروړاندې ځان وپیژني او خپله دفاع وکړي.

واکسین ژر تر ژره له بدن څخه ووزي.

خو، بدن په یاد لري چې څنګه د ویروس پروړاندې د ځان دفاع وکړي.

## اړخیزې اغیزې



واکسین په زرګونو خلکو باندې په لوی مطالعاتو کې ازمول شوی. عام اړخیزې اغیزې په لاندې ډول دي:

- د سرنج کولو په ځای کې درد
- ستړیا
- سر درد
- د بدن دردونه
- تبه یا یخ کېدل

دا اړخیزې اغیزې نا آرامه دي، مګر څو ورځې وروسته له منځه ځي.

## غیر معمولي اړخیزې اغیزې



د ډاکټر یا بل روغتیا مسلکي سره اړیکه ونیسئ که تاسو د واکسین وروسته غیر متوقع، شدید، یا اوږدمهاله نښې ولرئ.

که تاسو د کوروناویرس واکسینو په اړه نور معلومات غواړئ، نو د ناروې د عامې روغتیا انسټیټیوټ ویب پاڼه وګورئ:
https://www.fhi.no/kvp

FHI